## مطبوعاتي اعلاميه

### د اشغال شوي کشمير د مظلومانو غږ د پاکستان د وسلوالو ځواکونو ملاتړ غواړي



**(ژباړه)**

د کشمير د يووالي ورځ بيا رسېدلې، نو د اشغال شوي کشمير د مسلمانانو په حالت کې له وړمه کال راهيسي څه بدلون راغلی؟ د جمو کشمير لپاره په وروستي لسيزه کې ۲۰۱۸ کال تر ټولو خونړی کال وو چې د هندو دولت د اشغالګرو ځواکونو لخوا ۱۶۷ ملکي وګړي او ۲۶۷ تنه مبارزين وژل شوي. له دې سره لا تر اوسه د اشغال شوي کشمير مسلمانان د اشغال په وړاندې خپل برحق مقاومت ته دوام ورکوي، او په صبر سره (کشمير د پاکستانان دی) شعارونه ورکوي او تر اوسه د مخالفت له مخې خپلې جنازې د پاکستان په بيرغ پېچلې خاورو ته سپاري. په دې حالت کې د پاکستان د نظامي او سياسي مشرتابه له خوا څه تر سره شوي؟ د هغو کسانو لخوا چې د نړۍ په شپږم لوی ځواک کې يې د هيله منو او ځواکمنو مسلمانانو زرګونه ځوانان په لاس کې دی څه تر سره شوي؟ هغوی په هغو ويناوو خوښ دي چې د تکرارولو ارزښت هم نه لري. په ځانګړې توګه د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، چې په لندن کې ګرځي او له (نړيوالې ټولنې) غواړي چې د کشمير قضيې ته پاملرنه وکړي، لکه دا چې پاکستان مظلومانو ته د مرستې لپاره د نړۍ تر ټولو ښه ځواک ونه لري!

**اې د پاکستان مسلمانانو !** الله سبحانه‌وتعالی ويلي:

**(وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَانِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا)**

[نساء: 75]

***ژباړه:*** *و چرا شما در راه الله(سبحانه‌وتعالی) و در راه نجات مستضعفين نمی‌جنگيد! مردان و زنان و کودکان هم آنان که‌می‌گويند: پروردگارا! مارا ازين شهری‌که مردمش ستم پيشه‌اند، بيرون آر!*

د امت ستونزه دا ده چې له داسې حاکمانو څخه رنځوری دی چې د الله سبحانه و تعالی امر، د نورو بادارانو د امر په پرتله ورته هېڅ ارزښت نه لري. اسلام په مسلمانانو امر کړی چې د اشغال په وړاندې جګړه وکړي خو دا حاکمان د خپلو بادارانو د خوشحاله کولو لپاره په خلکو د (تروريزم) تور لګوي او له مبارزينو غواړي چې خپلې وسلې په ځمکه کېږدي او له هغو کسانو سره خبرې وکړي، چې له ډېره وخته راهيسي پرې ظلم کوي. اسلام امر کړی چې له اشغالګرو خپلواکي د خپلواک

کوونکي ځواک سره لاسته راشي، خو دا حاکمان غواړي چې زموږ ځواکونه له اشغالګرو سره له جګړې ډډه وکړي او دا حاکمان په بې شرمۍ له هند دولت سره خپلې اړیکې عادي حالت ته راګرځوي او له ټولو لارو هڅه کوي چې په دې برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي، اسلام د مسلمانانو په چارو کې د کفارو لاسوهنه په داسې حال کې ردوي چې دا حاکمان د (نړیوالې ټولنې) په لټه کې دي چې د ظالمو دولتونو اصلي ملاتړ کوونکي ده څه هغه دولت ظالم هندو دولت وي یا د یهودو دولت او یا هم صلیبي امریکایي دولت. موږ ته اړینه ده چې دا ناسم کار چې موږ ځوروي، اصلاح کړو چې د مظلومانو او ضعیفانو غږ او چیغو ته د یوه خپلواک ښونکي ځواک په توپانې او پیاوړي خوځښت باندې ځواب ورکړو. دا موږ ټولو ته اړینه چې: له هغو افسرانو چې پېژنو یې د نبوت په تګلاره د خلافت د تاسیس لپاره نصرت وغواړو چې د کشمیر د خپلواکۍ په لور د حرکت په وخت د شهادت یا بریا په لویه موخه ورته لارښوونه کړي.

**د حزب التحریر – ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور شمېره: ۲۹/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰ د جمادي الاول ۳۰ مه**

**۲۰۱۹ د فبرورۍ ۰۵ مه**